# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۷ د لیندۍ ۱۹مه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر لسمه | دویم کال| ۲۹۷یمه ګڼه


## هیواد

۴ مخ

### سیرالیون

د سیرالیون ۵۰ سلنه وګړي د کرنې په سکتور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۱۰ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له دغه سکتور څخه لاسته راځي.



# عمر داودزي حکومتي دنده واخیسته او رحمت الله نبیل ته هم د دفاع وزارت وړاندیز شوی





۳

## له فساد سره مبارزه، له شعاره تر عمله

۲ مخ

## که زه کاندید وای؛ مکلفیت او د کار قوه

۲ مخ

## بېنکاک او ستر سوداګریز مرکزونه یې

۳ مخ

## د روڼتیا د څار بنسټ: قضا، څارنوالي او معارف په افغانستان کې تر ټولو فاسد بنسټونه دي

د روڼتیا د څار بنسټ وايي، په افغانستان کې سږ کال د نورو کلونو په پرتله د فساد په کچه کې کموالی راغلی، خو وايي چې دغه کموالی د دغه هېواد د خلکو د ډېرې بېوزلۍ له امله چې رشوت نه شي ورکولی، رامنځته شوی دی.

دغه بنسټ د خپلې یوې نوې سروې له مخې وايي، په ۲۰۱۸ ز کال په افغانستان کې د اداري فساد کچه ۱،۷ میلیارده ډالره وه، په داسې حال کې چې په ۲۰۱٦ ز کال کې دغه اندازه ۲،۹ میلیاردو ډالرو ته رسېده.

د دې سروې له مخې محکمې، لویه څارنوالي او د پوهنې وزارت په فساد کې تر ټولو لوی ښکېل بنسټونه بلل شوي.

په دې سروې کې ۱۱ سلنه پوښتل شوو کسانو محکمې، ۱۰ سلنه پوهنې وزارت او ۹ سلنه نورو پوښتل شوو کسانو لویه څارنوالي په فساد کې تر ټولو ډېر ښکېل بنسټونه یاد کړي دي.

په دې سروې کې راغلي چې په ۲۰۱۸ ز کال کې ۴ میلیونه او ٦۰۰ زره کسان رشوت ورکولو ته مجبور شوي، خو په ۲۰۱٦ ز کال کې دغه اندازه ۳ میلیونه او ۴۰۰ زرو ته رسېده چې په دولتي ادارو کې رشوت ورکولو ته مجبور شوي وو.

د روڼتیا د څار بنسټ وايي، که څه هم د رشوت ورکوونکو په شمېر کې زیاتوالی راغلی، خو د رشوت ورکولو په منځنۍ کچه کې کموالی راغلی دی.

د روڼتیا د څاربنسټ غړیو تېره ورځ د فساد په اړه د خپلې سروې د پایلو اعلانولو پرمهال وویل چې په ۲۰۱٦ ز کال په افغانستان کې د فساد د کچې منځنۍ اندازه ۱۴ زره او ۱۱۵ افغانۍ وه چې سږ کال دغه اندازه ۸ زرو ۹۵۵ افغانیو ته را ټیټه شوې ده.

## د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون حق نه لري چې د یوې ټاکنیزې حوزې ټولې رایې باطلې کړي



۲ مخ

## په کندوز کې د ۴۰ میلیونو افغانیو په لګښت دوې پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



په کندوز کې د ٤٠ میلیونو افغانیو په لګښت د عدلي طب او د توبرکلوز ۲٤ بستریز روغتون کارونه بشپړ او ودانۍ یې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د کندوز والي عبدالجبار نعیمي وویل چې د عدلي طب ودانۍ په درېو پوړونو کې جوړه شوې چې لابراتوار او تحقیقاتي برخې به هم پکې فعالیت ولري.

نوموړي زیاته کړه، د دغه روغتون په فعالېدو سره به د روغتیا په برخه کې یو لړ اسانتیاوې رامنځته او خلکو ته به غوره روغتیایي خدمات وړاندې شي.

والي وايي چې پر دې ودانۍ ۲۱ میلیونه افغانۍ لګښت راغلی چې د دولت له بودجې ورکړل شوی دی.

د یو بل خبر له مخې، په دغه ولایت کې د توبرکلوز ۲۴ بستریز روغتون هم جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

والي وايي، پر دغه روغتون ۲٦۰ زره امریکایي ډالر لګښت راغلی چې د زون په کچه به خدمات وړاندې کوي.

## وزیر خارجه پاکستان برای گفت‌وگو دربارهٔ صلح به افغانستان می‌آید




در اوج تلاش‌های ایالات متحده برای آغاز مذاکرات صلح، رسانه‌های پاکستان، گزارش داده‌اند که شاه‌محمود قریشی، وزیرخارجهٔ این کشور قرار است هفته آینده به تاریخ ۱۵ دسمبر سال روان میلادی برای گفت‌وگو در این باره به افغانستان سفر کند.

وزیر خارجهٔ پاکستان که در یک نشست در شهر ملتان این کشور سخنرانی می‌کرد، اعلام کرد که پاکستان در روند صلح افغانستان همکاری می‌کند و به همین دلیل، او قرار است به افغانستان سفری داشته باشد.

این در حالی است که پیش از این رسانه‌های پاکستان گزارش دادند که دونالد ترمپ، رئیس‌جمهور امریکا در نامه‌یی به عمران خان، نخست وزیر پاکستان از او خواسته که در روند صلح افغانستان همکاری کند.

آقای قریشی گفته‌است که پاکستان از پروسهٔ صلح به رهبری و مالکیت افغان‌ها پشتیبانی می‌کند.

روز سه‌شنبه هفتهٔ گذشته، قریشی در دیدار با زلمی خلیلزاد، نمایندهٔ ویژهٔ امریکا برای صلح افغانستان نیز از حمایت کشورش از روند صلح افغانستان اطمینان داده بود. وی در این باره به خلیلزاد گفته بود: «پاکستان همچنان با صمیمیت برای حل سیاسی در افغانستان به همکاری‌هایش ادامه خواهد داد. صلح پایدار در افغانستان به سود پاکستان است.»


- د برېښنا له نشتوالي او ډېرو لګښتونو ستړي یاست؟
- غواړئ 24 ساعته برېښنا ولرئ، خو مو لګښتونه صفر ته راښکته شي؟
- غواړئ چې پر لمریزې برېښنا د پانګونې له لارې پیسې وګټئ؟

**نو بېړه وکړئ! ویسټا تاسې ته دا خدمات وړاندې کوي**

ویسټا ستاسې د سوداګریزو، استوګنیزو ځایونو او فابریکو د ځانګړو سولر سیستمونو، محاسبه، ډیزاین، نصب او بیا جوړونه کوي.

موږ کولای شو د اسلامي بانکدارۍ له لارې په یو کلن او دوه‌کلنو قسطونو کې تاسو ته د سولر سیستمونو خدمات وړاندې کړو.

د شهید خلور لارې، دهبوري، درېیمه ناحیه، کابل- افغانستان د ویسټا شرکت

0786 353 555 info@vistasolar.net www.vistasolar.net

## دریځ

### له فساد سره مبارزه، له شعاره تر عمله

د رونټیا ښار بنسټ د فساد پرضد د مبارزې شپږمه ملي سروې خپره کړه. په دغه رپوټ کې ویل شوي چې په افغانستان کې د فساد کچه له تېرو لسو کلونو راهیسې د زیاتوالي په حال کې ده. د سروې پر اساس ۷۲ سلنه خلک پر دې باور دي چې فساد په افغانستان کې د خلکو تر ټولو ستره ستونزه ده او ۷۳ سلنه نور د حکومت له لوري د عامه خدماتو د وړاندې کولو په اړه بې باوره دي. قضایي ارگانونه، ښارنوالۍ، پوهنې وزارت او ښاروالۍ تر ټولو فاسدې اداري گڼل شوې دي. په سروې کې ویل شوي چې په ځینو برخو کې فساد د غربت له امله را کم شوی دی.

له فساد سره مبارزه د ملي یووالي حکومت د مشرانو ژمنه وه، دوی په دې برخه کې د لاسته راوړنو خبره هم کوي، خو رښتیا فساد کم شوی او له فساد سره مبارزه بریالۍ ده؟ دا سمه ده چې فساد تر پخوا کم شوی، خو لکه په سروې کې چې ویل شوي ښکاره لامل یې غربت دی. د فساد د کموالي لامل د ملي یووالي د حکومت هڅې نه دي، بلکې لامل یې دا دی چې پیسې او بهرنۍ مرستې کمې شوې او غربت زیات شوی دی. که پخوا افغانستان ته ډېر مرسته ورکول کېدله، نو ډېر فساد پکې کېده. اوس چې مرسته کمه ده، فساد هم پکې کم دی. په دې کې د ملي یووالي حکومت رول نشته چې فساد یې کم کړی دی. رښتیا دا دي چې لا هم په حکومت کې په پراخه کچه فساد شته. لا هم دولتي څوکۍ او ان په لوړه کچه دولتي څوکۍ پلورل کېږي، لا هم قراردادونه د چارواکو خپلوان اخلي. د نورو کسانو خبره پر ځای، خپله د ولسمشر د کورنۍ د غړو په اړه ویل کېږي چې قراردادونه یې اخیستي دي. دا سمه ده چې ټول قراردادونه د ملي تدارکاتو له اداري تېرېږي. دا اداره په قراردادونو کې د سپما په اړه خبرونه ورکوي، خو لا هم ډېر خلک نه پوهېږي چې دا سپما څنگه شوې ده، پخوا دا قراردادونه له چا سره وو او اوس له چا سره دي؟

حکومت د خلکو د تېر ایستلو لپاره نمایشي کارونه کوي، خو د فساد کمې دوسیې به تر پایه تعقیب شوې وي. څو ورځې وړاندې یو جنرال د فساد په تور ونیول شو، خو په څو ورځو کې بېرته پرېښودل شو. دغه راز د ولسمشر شاوخوا کسان، وزیران او نور لوړ پوړي چارواکي پر فساد تورن دي او ان د ځینو خو یې اسناد او شواهد هم شته. له بده مرغه حکومت لا هم له فساد سره مبارزه یوازې په خبرو کې کوي، شعار ورکوي، کمپاین کوي، سیاسي مخالفین ځپي او له دې پرته په عمل کې څه نشته. که حکومت له فساد سره په مبارزه کې جدي وي، نو پکار ده چې د حکومت له اوسنیو چارواکو پیل وکړي، مفسدین معلوم دي، دوسیې او قضیې هم معلومې دي او ټول یې پېژني. حکومت له فساد سره په مبارزه کې سیاسي چلند کوي او څومره چې ټاکنو ته نږدې کېږو، دا چاره به لا زیاته د کمپاین او معاملو لپاره وکارول شي.

# که زه کاندید وای؛ مکلفیت او د کار قوه

لیکنه: نجیب منلی

مکلفیت د اجباري کار هغه حالت دی چې د یوه هېواد ټول یا ځینې وگړي د دولتي دستگاه خدمت ته راځي. عموماً مکلفیت د نظامي خدمت لپاره کارول کېږي.

د نړۍ په کچه د مکلفیت تاریخ تر پخوانیو تمدنونو پورې رسېږي. د هامورابي پاچاهي(۱۷۹۱ ق.م - ۱۷۵۰ ق.م) هغه لومړی دولت دی چې د مکلفیت ذکر یې د قانوني موادو په توگه تر موږ رارسېدلی دی.

په افغانستان کې د امیر شېرعلي خان د پاچاهۍ پر مهال د افغانستان د منظمې اردو بنسټ کېښودل شو چې هم تعلیم ورکول کېده، هم یې خپل ځانگړی لباس درلود او هم یې مشخص تشکیلات درلودل. د امیر عبدالرحمن خان د پاچاهۍ پر مهال د افغانستان اردو نوره هم منظمه شوه. په دې اردو کې د دایمي پرسونل ترڅنگ د ولس له منځه هم یوشمېر سرتېري جلبېدل. د شلمې پېړۍ په پیل کې به د هرو اتو تنو ترمنځ یو تن عسکري خدمت ته رابلل کېده چې لگښت به یې د ولس له خوا ورکول کېده (په اتو تنو کې به یوه تن عسکري کوله او نورو اوو تنو به د هغه د ژوند د تامین لپاره ونډه ورکوله).

د ۱۳۳۰ لمریز کال د مکلفیت نظامنامې عسکري خدمت د هېواد پر ټولو نارینه وو، د ۲۲ او ۴۶ کلنۍ ترمنځ اجباري کړ چې دوه کاله یې د خدمت او پاتې برخه یې د احتیاط دوره وه.

عسکري مکلفیت تر ۱۳۷۱ لمریز کال پورې دوام وکړ. کله چې په ۱۳۷۱ لمریز کال کې د افغانستان د ملي اردو بنسټونه ړنگ شول، نو مکلفیت هم بالفعل پای ته ورسېد.

د افغانستان د اوسنی اساسي قانون په ۵۵ مه ماده کې له هېواد څخه دفاع د افغانستان د ټولو اتباعو وجیبه بولي او د عسکري مکلفیت د دورې تنظیمول قانون ته موکولوي، خو عملاً د افغانستان ملي اردو یوه مسلکي اردو ده چې عسکر یې د داوطلبانه فردي قرارداد له مخې استخدامېږي.

ولسمشر حامد کرزي د مونیخ په امنیتي کنفرانس کې (د ۲۰۱۰ ز کال د فبرورۍ په ۷مه) علاقه وښوده چې د مکلفیت دوره بېرته را ژوندۍ کړي، خو په دې برخه کې یې کوم عملي اقدام ونه کړ.

په معاصرو جنگونو کې د تخنیک او مسلک اهمیت ته په کتو، شونې نه ښکاري چې عسکري مکلفیت دې د پخوا په څېر بېرته را ژوندی شي. اوس د سرتېرو معاش د تېر په څېر د نظامي لگښتونو تر ټولو مهمه برخه نه گڼل کېږي او هغه سپما چې د مکلفیت له لارې د عسکرو په معاشونو کې کېدای شي، د هغو ستونز پر وړاندې چې یوه غیرحرفه یې اردو یې رامنځته کولای شي د پام وړ نه برېښي.

د مکلفیت د ښېگڼو په اړه دا ویل هم اړین دي چې په مکلفیت کې یوازې د پوځ د لگښتونو موضوع نه ده شامله، بلکې دا دوره د ملي یووالي د تحکیم لپاره، په ټولنه کې د بې سوادۍ د کچې د تشخیص او محدودولو لپاره، د ځوانانو د سالمې روزنې لپاره هم اهمیت لري. عملاً په ټوله نړۍ کې شاوخوا ۵۰ هېوادونو اوس هم د عسکري مکلفیت یو ډول ساتلی دی.

د افغانستان په شرایطو کې د ملي امنیتي ځواکونو د بشري قوې اړتیاوې د مکلفیت له لارې نه شي پوره کېدلای، نو مکلفیت د اردو لپاره یوه گټوره طرحه نه ده، خو په ملکي برخه کې کېدای شي پر دې موضوع غور وشي.

د ملي یووالي د روحیې د روزلو او په هېواد کې د بې سوادۍ او ټولنیزو انحرافاتو د مخنیوي په خاطر د یو ډول مکلفیت د رامنځته کولو اړتیا شته. افغانستان دې ته اړتیا لري چې په یو تعریف شوي چوکاټ کې له طبقاتي توپیرونو پرته خپلو ځوانانو ته داسې شرایط برابر کړي چې ټول په گډه سره د هېواد د پرمختگ او سوکالۍ لپاره کار وکړي، یو له بل سره وپېژني، د متقابلې مرستې او همکارۍ روحیه پیدا کړي او د هېواد د بنسټیزو اړتیاوو په پوره کولو کې په مساوي توگه ونډه واخلي. په دغه چوکاټ کې دا زمینه هم مساعدېدای شي چې ځوانان پکې سواد او مسلکي زده کړو ته لاسرسی پیدا کړي.

د دې لپاره چې افغانستان له اقتصادي پلوه پر ځان بسیا شي، اړینه ده چې لازمې زېربناوې ورغوي. د زېربناوو رغول مادي او بشري امکانات غواړي چې په ازاد بازار کې یې رانیول ډېرې پیسې غواړي. د زېربناوو د رغولو د بیې راټیټول د هېواد پر ځان بسیاینې لپاره یو مهم شرط دی.

په دې برخه کې یو د پام وړ ټکی دا دی چې د زېربناوو رغول تر بل هر څه زیات د کار قوې ته اړتیا لري. د اوبو بندونه او سړکونه هغه مهمې زېربناوې دي چې تر ۶۰ سلنې پورته پر بشري قوه متکي دي. د تعمیراتو په برخه کې بشري قوه هم د ټول ارزښت تر نیمایي پورې تشکیلوي. همدا راز د افغانستان د طبیعي زېرمو استخراجول هم لړ تخنیک او ډېره بشري قوه غواړي. پر دې اساس که افغانستان وکړای شي چې د کار د قوې لگښت یو معقول حد ته راټیټ کړي، نو د زېربناوو د تمویل اړتیا تر نیمایي زیاته کمولای شي.

له بل لوري، که څه هم د افغانستان ځوان نسل ورځ تر بلې ډېر ښوونځیو ته لاسرسی پیدا کوي، خو هېواد مو لا هم د مسلکي کارگرو له تشې سره مخ دی. د ځوانانو د بېکارۍ کچه هم د فاجعې تر حده لوړه ده. د کارموندنې د فرصتونو ایجادول پیاوړی اقتصاد غواړي او د اقتصاد پیاوړتیا زېربناوو او خامو موادو ته د لاسرسي تابع ده.

اوسمهال د افغانستان اقتصاد عمدتاً مصرفي اقتصاد دی او پر ځان بسیاینه تر هغو د یو موهوم هدف په بڼه پاتې کېږي چې اقتصاد مو تولیدي شوی نه وي. د کورنیو عوایدو کچه په مستقیم ډول د تولید له وړتیاوو سره تړلې ده. د تولید وړتیا په خپل وار د مناسبو زېربناوو پر شتون ولاړه ده. د زېربناوو رغول مالي امکانات غواړي چې یوازینۍ د منلو وړ منبع یې تولیدي وړتیا ده. پر دې ډول اوس د افغانستان اقتصاد په یوه معیوبه کړۍ کې راگیر دی چې باید دا کړۍ ماته شي.

که وکړای شو چې د اقتصاد دغه معیوبه کړۍ په یوه گټوره کړۍ بدله کړو، نو له دې ستونزې د وتلو لار موندلای شو. د دې گټورې کړۍ د رامنځته کولو یوه لار ښایي چې د کار د قوې لپاره په یو نوي ډول د مکلفیت بیا را ژوندي کول وي.

دلته د دغه بنسټیز بدلون د یو ممکن میکانېزم پر وړاندیز بحث کول غواړم:

**۱ – د مکلفیت د قانون په چوکاټ کې د پنځه سوه زرو او یو میلیون تنو تر منځ د کاري ځواک ایجادول**

د افغانستان د اساسي قانون د ۵۵ مې مادې د حکم پر اساس له هېواد څخه دفاع د هېواد د ټولو اتباعو وجیبه ده او د ملي اقتصاد پیاوړتیا له ملي گټو د دفاع یوازینۍ لار بلل کېږي. د اساسي قانون د همدغه تعبیر پر بنسټ د هېواد ټول اتباع مکلف دي چې د ملي اقتصاد په بیارغولو کې مشخصه ونډه واخلي. دغه ونډه اخیستل د کار د ملي ځواک لپاره د مکلفیت دوره ده.

د هېواد ټول نارینه اتباع چې د شل کلنۍ سن یې پوره کړی وي او پر تعلیم بوخت نه وي، د ملي خدمت د مکلفیت یو کلنه دوره به تېروي. هغه ځوانان چې په شل کلنۍ کې په یوه تعلیمي مرکز کې پر زده کړو بوخت دي، د تعلیم تر ختمولو وروسته د مکلفیت دورې ته جلبېږي.

د مکلفیت لپاره جلب شوي ځوانان د استوگنې د ځای، خوراک او پوښاک ترڅنگ علي السویه د ملکي خدماتو د اتم بست د کارمند د معاش د شپېته سلنه معادل مدد معاش مستحق دي. که جلب شوي ځوانان مسلکي زده کړې او مهارتونه ولري، نو د خپلې وړتیا مطابق په کار گومارل کېږي او که مسلکي مهارتونه ونه لري، د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره داسې دنده ور سپارل کېږي چې د هغه له غوښتنو او د کار د بازار له تقاضاوو سره مناسبت ولري. هغه ځوانان چې سواد نه لري، د خدمت په دوره کې حیاتي سواد تر لاسه کوي. هغه ځوانان چې لوړې زده کړې یې کړې دي، د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره د کاري قوې په چوکاټ کې په داسې دندو گومارل کېږي چې یوه مناسبه کاري تجربه ترلاسه کړي.

د مکلفیت له دورې څخه د تېښتې د مخنیوي په خاطر د واده، سفر او کار په شمول له ټولو مدني حقونو څخه د برخمن کېدو لپاره د کاري قوې له مکلفیت څخه د ترخیص درلودل لازمي دي.

**۲ – د کار د ځواک تنظیم**

دغه ځواک د عامه گټو د وزارت په چوکاټ کې تنظیمېږي او د یو عالي بین الوزارتي بورډ له خوا څارل کېږي.

د زېربناوو د رغولو په ټولو قراردادونو کې د کار له ځواک څخه د استفادې ونډه او شرایط ذکر کېږي. هر قراردادي به مکلف وي چې د امکان تر حده د کاري ځواک له بشري منابعو کار واخلي او په مقابل کې یې د بازار د نرخونو مطابق دولت ته معاوضه ورکړي.

د دولت د زېربنایي پروژو په تطبیق کې د کاري ځواک له خدماتو کار اخیستنه د قانون له لارې تنظمېږي.

**۳ – ارزونه**

- د مکلفیت پر بنسټ ایجاد شوی کاري ځواک له دې امله چې عام دی او د ټولنې پر ټولو اقشارو یو شان تطبیقېږي، د هېواد په رغونه او بیارغونه کې د ټول ملت مستقیمه ونډه اخیستنه تامینوي.
- د کاري قوې په چوکاټ کې جلب شوي ځوانان، له اړتیاوو سره سم د افغانستان په هر گوټ کې په کار گومارل کېږي. په دې توگه د بېلابېلو سیمو او قومونو وگړي یو بل سره پېژني، د همکارۍ، گډ ژوند او د دوستۍ اړیکې سره پالي.
- د کاري ځواک په چوکاټ کې ټول هغه ځوانان چې له زده کړو محروم پاتې دي، د سواد له نعمته برخمن کېږي.
- د کاري ځواک په چوکاټ کې ځوانان حرفوي مهارتونه او کاري تجربه تر لاسه کوي. کېدای شي چې په دې ترڅ کې ممتاز کارگران تشخیص شي او د اختصاصي زده کړو زمینه ورته مساعده شي چې په هېواد کې دننه او له هېواده بهر د کار بازار ته لار ومومي.
- هغه مدد معاش چې جلب شوو کارگرو ته ورکول کېږي، د هېواد په بازارونو کې د فعالیت د غوړېدا لامل کېږي.
- د کاري ځواک له برکته د زېربنایي پروژو په لگښتونو کې د پام وړ کموالی راځي چې دا په خپل وار د ډېرو پروژو د تطبیق لپاره شرایط رامنځته کوي.
- د کاري ځواک پر مټ جوړې شوې زېربناوې د خلکو پر ژوند او اقتصاد مستقیم اغېز ښیندي.
- کله چې هر څوک شخصاً د هېواد په ودانولو کې خپله ونډه وویني، له هېواد سره یې مینه لا پیاوړې کېږي.
- د مستقیم او دوامداره طبي نظارت له لارې په ځوانانو کې د اعتیاد پدیده تر کنټرول لاندې راځي.

د ځوانانو تر منځ همکاري د اخلاقي او ټولنیز فساد په مخنیوي کې مثبت نقش لوبوي.

- د مکلفیت له لارې د کار د قوې ایجاد ټولې هغه گټې لري چې د عسکري مکلفیت د توجیه لپاره ورته گوته نیول کېږي، خو دا ځواک د ملکي او اقتصادي اهدافو لپاره کارول کېږي چې له یوې خوا د هېواد مجموعي وړتیاوې لوړوي او له بلې خوا د ملي دفاع په چاره کې د نظامي عملیاتو ترڅنگ د ټولنې پرمختگ ته هم د قدر وړ ځای پیدا کېږي.

## اریايي: د ځینو فشارونو له امله له خپلې پرېکړې منصرف شوی یم

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون له لوري د کابل ولایت د رایو د باطلولو په تړاو تر تصمیم وروسته د ټاکنو کمېسیون له دغه تصمیم سره مخالفت وکړ او یوه ورځ وروسته شکایتونو کمېسیون له خپل تصمیم څخه منصرف شو.

اوس د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون رییس وایي، د کابل رایو د ابطال په اړه پوره اسناد لري، خو د ځینو فشارونو له امله دې ته مجبوره شوی چې خپله پرېکړه بېرته واخلي.

نوموړی وایي، په خپلو تصامیمو کې خپلواک دی، خو په عملي کولو کې یې له گڼو ستونزو سره مخ کېږي.

له دې سره د ولسي جرگې ټاکنو یو شمېر نوماندان بیا د کمېسیونونو پر استقلالیت نیوکه کوي او وایي، دواړه کمیسیونونه تر حکومتي فشار وروسته پرېکړه کوي. نوماندان وایي، شکایتونو کمېسیون هم حکومت دې ته مجبور کړی چې له خپلې پرېکړې بېرته په شا شي.

په ورته مهال د مشرانو جرگې غړي هم وایي، که شکایتونو کمېسیون د کابل رایې د اسنادو پر بنسټ باطلې کړې وي، باید پر خپل تصمیم ودرېږي، پرته له هغه پر قانون د ملنډو وهلو په تور باید تر عدلي او قضایي تعقیب لاندې ونیول شي.

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د کابل رایو د ابطال په اړه له خپلې پرېکړې داسې مهال بېرته په شا کېږي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون له دې پرکړې سره مخالفت ښودلی و او د ولسمشر د دویم مرستیال سرور دانش په مشرۍ جوړې شوې کمېټې پرېکړه وکړه چې شکایتونو کمېسیون به پر خپلې پرېکړې له سره غور کوي.

# عمر داودزي حکومتي دنده واخیسته او رحمت الله نبیل ته هم د دفاع وزارت وړاندیز شوی





د حراست او ثبات شورا غړی عمر داودزی د سولې شورا د دارالانشا د رییس او د سولې د اجماع لپاره په سیمه ییزو چارو کې د ولسمشر د ځانګړي استازي په توګه ټاکل شوی دی.

ولسمشر د نوموړي د دواړو دندو په اړه جلا جلا حکمونه ورکړي دي چې پرون خپاره هم شول.

په ورته وخت کې حکومت ته نږدې سرچینې وایي چې ولسمشر غني د ملي امنیت پخواني رییس رحمت الله نبیل ته د ملي دفاع وزارت د څوکۍ وړاندیز کړی او نبیل هم له ولسمشر سره په دې تړاو غږېدلی، خو د توافق په تړاو یې څه نه دي ویل شوي.

د نبیل په اړه ویل کېږي چې نوموړي د ملي امنیت ریاست غوښتنه کړې، خو د هغه دفتر دغه خبر نه دی تایید کړی.

حکومت هڅه کوي چې نور سیاسي کسان هم په حکومت کې ور ګډ کړي او په دې ډول خپل ملاتړي زیات کړي.

ویل کېږي چې ولسمشر غني د سولې خبرو لپاره د ټاکنو د احتمالي ځنډېدو او موقت حکومت د رامنځته کېدو په صورت کې په دې لټه کې دی چې په کور دننه او بهر د ځان لپاره ملاتړ پیدا کړي او د موقت حکومت مشري ده ته وسپارل شي.

ویل کېږي، له دې سره هممهاله په متحده ایالتونو کې د افغانستان د ملي امنیت شورا اړوند یو پلاوی هم د دا ډول ملاتړ د ترلاسه کولو په لټه کې دی.

## سرحدي ځواکونو په ننګرهار کې له پاکستانه قاچاقېدونکې وسلې نیولې



په ختیځ کې د سرحدي ځواکونو قوماندان برید جنرال محمد ایوب حسین خېل رسنیو ته ویلي، دې دوی د شېرم کنډک سرتېرو له یوه قاچاق وړونکي سره بېلابېلې وسلې نیولې چې د ډیورنډ کرښې له هغې غاړې یې افغانستان ته را قاچاق کولې.

نوموړي ویلي: «زموږ شپږم سرحدي کنډک چې په دور بابا ولسوالۍ کې یې دویم ټولی دی، هغوی وکړای شول چې له دغه کس سره دوه میله پیکا، اته میله کلاشینکوفونه او شپاړس میله برېټا تفنګچې چې د تروریستي اعمالو لپاره یې افغانستان ته را انتقالولې، په یوه کمین کې نیولې».

له دې وړاندې د ختیځ یوشمېر اوسېدونکو اندېښنه ښکاره کړې چې دلته د وسله والو ډلو لپاره وسلې او مهمات د ډیورنډ کرښې له هغې غاړې دېته راوړل کېږي. د ننګرهار یوشمېر مدني فعالان هم په دې اند دي، تر هغې چې د ډیورنډ پر کرښه د وسلو، مهماتو او په نورو برخو کې د قاچاق مخه ونه نیول شي، په دې سیمه کې د امن راتګ ستونزمن دی.

د دغه ولایت مدني فعال اسدالله ښالیز ویلي، پر دغو لارو پخوا هم قاچاق کېده، خو اوس د قاچاق بڼه بدله شوې. نوموړی وایي، د ډیورنډ کرښې اوږدوالي ته په کتو باید د ځواکونو شمېر هم لوړ شي.

نوموړي زیاته کړې: «ساحه دومره پراخه ده چې دغه شمېر ځواکونه چې هلته ځای پر ځای دي، کافي نه دي، که کافي وای، د دغه قاچاق مخه به ورسره نیول شوې وای. دا نن چې یو کس نیول شوی، زه په دې ډاډه یم چې پر دې قاچاقي لارو اوس هم د وسلو او نورو مهماتو حمل او نقل کېږي، خو پخوا اقتصادي برخه وه، اوس دغه برخه په جنګي اقتصادي برخه بدله شوې او اوس هم د وسلو قاچاق کېږي چې باید دا قاچاقي لارې وتړل شي.»

له دې وړاندې هم سرحدي ځواکونو په وار وار د مهماتو او د وسلو د نیول کېدو خبر ورکړی، خو یوشمېر شنونکي بیا د سرتېرو له خوا د وسلو او مهماتو نیول لویه لاسته راوړنه بولي او ټینګار کوي چې پر دې کرښه به ټولې قاچاقي لارې په بشپړ ډول وتړي.

## لویې څارنوالۍ د فوټبال فدراسیون د رییس او څلورو نورو چارواکو دندې ځنډولې



د فوټبال د ځینو ښځینه لوبغاړو د جنسي ځورونې له تورونو او ادعاوو وروسته لویې څارنوالۍ د فوټبال فدراسیون د رییس، سکرتر جنرال، مرستیال، دې دروازو د ساتونکو، د کمېټې د مسوول او د فدراسیون د ولایتي اړیکو د مسوول دندې ځنډولې دي.

د لویې څارنوالۍ ویاند جمشېد رسولي ازادي راډیو ته ویلي چې دغه کار د حقیقت موندونکي پلاوي په غوښتنه ترسره شوی دی.

نوموړي ویلي: «دا چې د فدراسیون مسوولین په څېړنه کې شامل وو، نو د غوره عدالت د تطبیق او دا چې په ټاکل شوي وخت اسناد او مدارک راټول شوي وي او هم د څېړنې په پروسه کې څه لاسوهنه ونه شي، د فدراسیون د رییس، مرستیال، سکرتر جنرال، دې دروازې د ساتونکو، د کمېټې د رییس او د ولایتي اړیکو د مسوول وظیفې د حقیقت موندونکي پلاوي د وړاندیز او د لویې څارنوالۍ له منظورۍ وروسته ځنډول شوې دي».

دغه اقدام داسې مهال کېږي چې له دې وړاندې د نجونو د فوټبال پخوانۍ مدیرې خالدې پوپلزۍ له ازادي راډیو سره په خبرو کې د افغانستان د فوټبال فدراسیون چارواکي پر جنسي ځورونه تورن کړي وو.

پوپلزۍ ویلي وو چې د فوټبال فدراسیون د چارواکو د ناوړه چلند او جنسي ځورونې فلم او عکسونه لري چې د فوټبال له نړیوال فدراسیون یا فیفا سره یې هم شریک کړي دي.


نوموړې ویلي وو چې د شفافو څېړنو په خاطر به دغه اسناد د لویې څارنوالۍ په واک کې هم ورکړي.

د فوټبال نړیوال فدراسیون یا فیفا هم ویلي چې د افغانستان د فوټبال په فدراسیون کې د جنسي ځورونې په اړه پلټنې او څېړنې کوي.

خو د دغه فدراسیون د نشراتو رییس شفیع شاداب ویلي، دوی ته تر اوسه په دې اړه د لویې څارنوالۍ له خوا کوم رسمي مکتوب نه دی رسېدلی.

نوموړي ویلي: « موږ ته تر اوسه کوم سند یا مکتوب نه دی راغلی. کله چې د لویې څارنوالۍ مکتوب را ورسېد، بیا به د فدراسیون رییس د دریځ په اړه تصمیم نیسي.» د لویې څارنوالۍ ویاند جمشېد رسولي ویلي، د څېړنو له بشپړېدو وروسته به نتیجې د رسنیو په واک کې ورکړل شي.

## په فرانسه کې د پولیسو او اعتراض کوونکو ترمنځ د نښتو پر مهال تر ۱۷۰۰ ډېر کسان نیول شوي



په فرانسه کې د ژېړ واسکټو اعتراض کوونکو او پولیسو ترمنځ د نښتو پرمهال له ۱۷۰۰ څخه ډېر کسان نیول شوي دي. دا مظاهرې چې له تېرو دریو اونیو راهیسې د تېلو د بیو د لوړېدو په غبرګون کې پیل شوې، وروسته له هغې په تاوتریخوالي واوښتې چې اعتراض کوونکو هڅه کوله ولسمشرۍ ماڼۍ ته ځان ورسوي، خو پولیسو پرې اوښکې بهوونکي ګاز استعمال کړ او دې ماڼۍ ته یې د دوی د ورتلو مخه ونیوله.

اعتراض کوونکو هغه ځانګړي واسکټونه اغوستي چې ترافیک او د ښاروالۍ کارکوونکي یې په شپه کې د لیدلو لپاره اغوندي.

که څه هم د دغو اعتراضونو د امنیت لپاره ۸ زره پولیس ګومارل شوي، خو حکومت اعتراض کوونکو ته خبرداری ورکړی چې ښایي افراطي ډلې او باغیان د هغوی له حضوره ناوړه استفاده وکړي.

دغه اعتراضونه د پلازمېنې پاریس په ګډون په مارسي، بوردو، لیون او تولوز ښارونو کې هم روان دي.

اعتراض کوونکي د دغه هېواد له ولسمشر ایمانویل مکرون څخه غواړي چې استعفا دې ورکړي، خو د فرانسې حکومت ویلي، په پام کې ده چې ولسمشر مکرون په راتلونکو دوو ورځو کې په وینا کې یو مهم اعلان وکړي.

که څه هم ولسمشر مکرون پر تېلو د مالیې زیاتولو پلان لغوه کړی، خو دغه اقدام بیا هم د ژېړ واسکټو د اعتراضونو د پای ته رسېدو سبب نه شو.

اعتراض کوونکي د مالیې ټیټېدل، د حق الزحمې زیاتېدل او د تقاعد د امتیازونو لوړېدل غواړي.

د فرانسې ولسمشر د اعتراض کوونکو د غوښتنو په تړاو یوې خبرې غونډې ته په وینا کې وویل: «زه هر وخت د خلکو د مخالفت درناوی کوم، زه به تل اپوزیسیون ته غوږ نیسم، خو هېڅکله تشدد نه شم زغملای».

د یادونې وړ ده چې د پولیسو او اعتراض کوونکو ترمنځ د نښتو له امله تر اوسه د ۱۳۰ تنو د ټپي کېدو راپورونه هم ورکړل شوي دي.

## د کتـــاب خبـــرې

# د رهبرۍ اړينې ځانګړنې

### ۲۱ هغه ځانګړتیاوې چې یو غوره رهبر یې حتماً ولري

- لیکوال: جان مکسوېل
- ژباړن: میراحمد یـاد

### شلمه ځانګړنه
**زده‌کړه:**



**۳) لنډې لارې پرېږدئ**

زما ملګرې نانسي دورنان وايي: (د دوو ټکو ترمنځ اوږد واټن لنډه لار ده.) دا خبره رښتیا ده، په ژوند کې باید د هر ارزښتنمن شي بیه پرې شي. که تاسې په یوه برخه کې د پرمختګ هیله لرئ، نو فکر وکړئ چې له څه شي باید ورته تېر شئ، کومه بیه یې باید پرې کړئ؟

**٤) غرور مات کړئ**

د زده کړې شرط دا دی، چې تاسې باید په دې پوه شئ چې په هېڅ نه پوهېږئ. بل دې ته پام کوئ چې څومره زده کړه کوئ، هومره به ورسره تېروتنې هم کوئ. البرټ هیوبارډ وايي: (په ژوند کې لویه تېروتنه، له تېروتنې وېره ده.) زده‌کړه او غرور په یوه ځای نه کېږي. امریسن وايي: (هر وخت چې یو شی ترلاسه کوئ، یو شی به بایلئ.) که غواړئ چې وده وکړئ، نو له غروره تېر شئ.

**٥) له یوې سوړې دوه ځله مه چیچل کېږئ**

روزوېلټ وايي: (څوک چې تېر نه وځي، پرمختګ هم نشي کولای.) دا خبره بېخي سمه ده. خو کوم رهبر چې یوه تېروتنه دوه یا څو ځله تکراروي هغه هم نه بریالی کېږي. تاسې که د رهبر په توګه له زده‌کړې سره مینه لرئ او زده کړه کوئ، نو تېروتنې به هم کوئ، دا تېروتنه مهمه نه ده، خو له دې تېروتنې چې کوم سبق اخلئ، هغه ټول عمر یاد ساتئ.

**پر دې فکر وکړئ**

په ماشومتوب کې مې د اوهایو په یوه کلي کې ژوند کاوه، یوه ورځ مې یوه لیکنه ولیده، دا ټکي مې پکې ولوستل: (که د خپل فصل له حاصلاتو راضي نه یئ، نو د کرلو پر وخت تخم ته پام وکړئ.) سره له دې چې دا لیکنه د تخم د خرڅلاو لپاره شوې وه، خو موضوع پکې ډېره مهمه راخیستل شوې وه.

تاسې څه ډول حاصل اخلئ؟ آیا ستاسې ژوند او د رهبرۍ شرایط ورځ تر بلې ښه کېږي؟ آیا یوازې هڅه کوئ چې خپل اوسنی موقف وساتئ؟ که تاسې له یوه مقام سره مینه لرئ او تراوسه ورته رسېدلي نه یاست، نو پوه شئ چې په زده‌کړه کې ستونزه لرئ. آخر ځل مو کله د لومړي ځل لپاره یو کار کړی دی؟ په وروستیو کې مو کله داسې یو کار کړی چې هېڅ تیاری مو ورته نه درلود؟ دا او راتلونکې اونۍ پر دې فکر وکړئ چې د زده‌کړې په اړه تاسې څه نظر لرئ.

**د رسېدو لار**

د زده‌کړې د پیاوړتیا لپاره لاندې کارونه وکړئ:

- وګورئ چې تېروتنې ته مو غبرګون څه دی. خپلې تېروتنې منئ؟ د اړتیا پر وخت ښښنه غواړئ؟ که دفاعي حالت خپلوئ؟ ځان ته ځیر شئ، له باوري ملګرو نظر واخلئ.
- نوي کارونه وکړئ.  نن له خپلې لارې وځئ، داسې یو نوی، بېل او بل کار وکړئ چې ذهن، احساسات او طبیعت مو را وپاروي. ننګونې په مونږ کې مثبت بدلون راوړي. که غواړئ چې وده وکړئ، نو ننګونې د خپل ژوند برخه وګرځوئ.
- د قوت په ساحه کې زده کړه وکړئ. هر کال په خپل مسلک کې د رهبرۍ له ٦ تر ۱۲ کتابونه ولولئ. په کومه برخه کې چې تاسې مخکې یاست، که په هغه کې تاسې زده کړه وکړئ، نو ستاسې د ودرېدو او کنګل کېدو مخه نیسي او له زده‌کړې مو نه پاتې کوي.

**له تجربې زده‌کړه**

تاف هدمن د غوايي ځغلولو لوبې اتل و، درېیم ځل اتلولي چې یې وګټله، ویې نه نمانځله. دی دینور ته لاړ او نوی فصل یې پیل کړ او ټوله پروسه بېرته له سره شوه. بیا یې وویل: (غوايي ته دا مهمه نه ده چې ما تېره اونۍ څه کړي.) که تاسې په هره برخه او هر مسلک کې یاست او غواړئ چې کال ته بیا هم اتل شئ، نو اوس زده‌کړه پیل کړئ.

**یوویشتم ځانګړنه**
**ارمان:**
**څه چې لیدلی شئ، هغه ګټلی شئ.**

رهبران خپل ارمانونه او لیدلي خوبونه د خپل شوق په زور پوره کوي، نه د خپل موقف په زور.
(جان مکسوېل)

راتلونکی د هغو دی چې امکانات له ترلاسه کولو وړاندېویني.
(جان سکولي)
«د پیپسي او ایپل شرکتونو پخوانی اجرائیوي رئیس»

**دوام لري...**

# سیرالیون

حشمت الله نوري



سیرالیون د افریقا د لویې وچې په لوېدیځه برخه کې د لوېدیځو طول البلدونو د ۱۰ او ۱۴ درجو او د شمالي عرض البلدونو د ٦ او ۱۰ درجو ترمنځ موقعیت لري. پراخوالی یې ۲۷۵۴۶ کیلومتره مربع دی او له دې پلوه د نړۍ ۱۱۰م لوی هېواد دی. د دغه هېواد شمال ته ګیني، جنوب ته یې لایبریا، ختیځ ته یې ګیني او جنوب لوېدیځ ته یې اتلانتیک سمندرګی پروت دی.

دغه هېواد د استوا له کرښې سره د نږدېوالي له امله توده او د اتلانتیک له سمندر سره د ګاونډیتوب له امله لنده استوايي هوا لري.

سیرالیون د افریقا یو کوچنی هېواد دی چې له خپلو ګاونډیانو سره نیمې دایروي پولې لري او له همدې امله د ګردي هېواد په نامه هم یادېږي. د دغه هېواد مهم سیندونه روکل، سوا موا، جونګ او تر ټولو لوی یې بیا سکارسېس دی.

دغه هېواد په ګڼو استوايي ځنګلونو پوښل شوی چې دولت او بزګرانو یې په تېرو شلو کلونو کې ځینې هوارې ځنګلي سیمې په کرنیزو ځمکو اړولې چې سونډ، قهوه، ناریال او غنم پرې کرل کېږي.

د سیرالیون پلازمېنه فري ټاون ښار دی. نفوس یې کابو اوو میلیونو کسانو ته رسېږي چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۷۹ تنه ژوند کوي. د دغه هېواد ۴۵ سلنه وګړي په ښارونو کې ژوند کوي او پاتې ۵۵ سلنه نور یې بیا په کلیو او بانډو کې مېشت دي. د اداري وېش له پلوه دغه هېواد پر دریو ولایتونو او یوې سیمې باندې وېشل شوی دی.

بوکینما، کویادو، مکیني، لونیسر، پورټوموکو او واترلوو یې مهم ښارونه دي.

۳۷ سلنه وګړي یې تورتمنه، ۳۱ سلنه یې منده، ۱۰ سلنه یې لمب، ۵ سلنه یې کونو او پاتې نور یې لوکو دیالونکه نژداه دي. د دغه هېواد رسمي ژبه انګلیسي او لیکدود یې لاتیني دی.

د حکومت ډول یې مشروطه ولسواک دی. د سیرالیون اساسي قانون د ۱۹۹۱ ز کال د اکټوبر په لومړۍ نافذ شوی او تر اوسه پورې څو ځلې تعدیلات پکې راغلي دي. د دغه هېواد ولسمشر د هېواد د لومړي وزیر چارې هم پر مخ وړي.

د سیرالیون ولسمشر د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي او دوې دورې کار کولای شي. د دغه هېواد د کابینې وزیران د ولسمشر له خوا او د ولسي جرګې د غړو په مشوره ټاکل کېږي.

د سیرالیون ولسي جرګه ۱۲۴ غړي لري چې ۱۱۲ یې د خلکو په خوښه او ۱۲ نور یې بیا د مشرانو د هغه ډلې له خوا ټاکل کېږي چې خپلې ځانګړې ټاکنې لري. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي. ستره محکمه د دغه هېواد لوړقضايي ارګان دی.

د خلکو کانګرېس ګوند، د سولې او خپلواکۍ ګوند او د ولسواک بدلون لپاره د خلکو غورځنګ د دغه هېواد لوی او نفوذ لرونکي ګوندونه دي.

سیرالیون د ۱۹٦۱ ز کال د اپرېل په ۲۷مه له انګلستان څخه خپلواکي واخیسته، نو له همدې کبله د اپرېل ۲۷مه هر کال په دغه هېواد کې د خپلواکۍ د ورّځې په نوم نمانځل کېږي.

دغه هېواد د ګڼو نړیوالو ټولنو ترڅنګ په ۱۹٦۱ ز کال د ملګرو ملتونو غړیتوب هم ترلاسه کړ.

سیرالیون د نړۍ او افریقا له ډېرو وروسته پاتې او بېوزلو هېوادونو څخه دی. ملي عواید یې په عادلانه توګه نه وېشل کېږي او دې مسئلې پکې ډېرې ستونزې جوړې کړې دي. دغه هېواد پرېمانه کاني زېرمې، د کرنې وړ ځمکه او د کب نیولو ښې سیمې لري.

د سیرالیون د اقتصاد فزیکي او ټولنیز بنسټونه لا تراوسه په بشپړه توګه نه دي رغول شوي چې ډېری یې د کورنۍ جګړې په وخت کې نړېدلي دي. ټولنیزې ناخوالې او ناکرارۍ د دغه هېواد د اقتصادي پرمختګ په لار کې ستر خنډ بلل کېږي. د سیرالیون ۵۰ سلنه وګړي د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي چې د ځنګلونو او څړځایونو ساتنه، پالنه او پراختیا او د کبانو نیول هم په دغه سکټور کې راځي.

د دغه هېواد صنعتي سکټور د کرنیزو توکو پر پروسس او د ځینو استهلاکي موادو پر جوړولو بوخت دی. د الماسو ایستل، پروسس او صادرات یې د اقتصاد د ملا تیر بلل کېږي.

د سیرالیون د عوایدو کچه ٦۳۰ میلیون ډالرو او د لګښتونو کچه یې بیا ۷٦۰ میلیون ډالرو ته رسېږي. د دغه هېواد دوو میلیونو کسانو ته د کار زمینه برابره ده.

د الماسو او نورو کاني موادو ایستل او پروسس، برېښنا، خوراکي توکي، ټوکران، بوټونه، لرګي، ګوګړ، د تیلو چاڼ، د کوچنیو بېړیو ترمیم او لاسي کارونه  د دغه هېواد په صنعت کې رغنده رول لوبوي.

د دغه هېواد ۱۲ سلنه ځمکه د کرنې وړ ده او پاتې نوره یې څړځایونو، ځنګلونو، غرونو، بېدیاوو او سیندونو نیولې ده. د سیرالیون ۵۰ سلنه وګړي د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۱۰ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدغه سکټور څخه لاسته راځي.

لرګي، غنم، وریجې، لوبیا، قهوه، مېوې، سابه، غوښه، لبنیات، هګۍ او واښه د سیرالیون د کرنې او څارویو مهم محصولات بلل کېږي.

الماس، سره زر، اوسپنه، پلاتین، کرومایت او د ډبرو سکاره د دغه هېواد لوی کانونه دي.

د صادراتو ټوله بیه یې ۱،۹۰ میلیاره ډالرو او د وارداتو ټوله بیه یې ۲ میلیاردو ډالرو ته رسېږي. بلجیم، رومانیا، چین، امریکا، برېټانیا، هالنډ او ترکیه  د دغه هېواد لوی سوداګریز شریکان دي.

دغه هېواد ۱٦۰ کیلومتره د اورګاډي پټلۍ، ۱۵۰ د کارګو بېړۍ او ۱۰ هوايي ډګرونه لري چې ۳ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. د ټلیفون کوډ نمبر یې ۰۰۲۳۲ او د انټرنېټ کوډ نمبر یې ای اېس دی او ۲ لکه وګړي یې انټرنېټ ته لاسرسی لري.

سیرالیون دوه دولتي ټلوېزیونونه لري او ترڅنګ یې خصوصي سکټور هم یوشمېر ټلوېزیونونه او راډیوګانې لري.

سیرالیون د افریقا له وروسته پاتې هېوادونو څخه دی. د دغه هېواد ۵۰ سلنه نارینه او ۳۰ سلنه ښځې په لیک او لوست پوهېږي.

زده کړه په سیرالیون کې له ۵ څخه تر ۱۷ کلنو تنکیو ځوانانو لپاره جبري ده.

په سیرالیون کې د ځوانانو لپاره د زده کړې، ورزش، تفریح او هوساینې امکانات لږ دي او د دغه هېواد ډېری وګړي پر اېډز اخته دي.

د سیرالیون پخوانی تاریخ په تیارو کې پټ دی، خو داسې ښکاري چې ډېر پخوا په دغه سیمه کې څو کوچنۍ ډلې واکمنې وې. په ۱۴۴۷ ز کال کې پرتګالي پدرو داسینټرا او د ده ملګري د سیرالیون اوسنۍ خاورې ته ورسېدل. دا سیمه یې سیرالیون یا د زمرو په نامه یاده کړه او په ساحلي سیمو کې یې د مرییانو د سوداګرۍ دفترونه او ورپسې پوځي اډې جوړې کړې. وروسته تر دوو پېړیو پورې دا سیمه په ټوله افریقا کې د مرییانو د صادرولو ستره اډه بلل کېده.

د ۱۷ مې پېړۍ په پای کې برېټانویانو چې د مرییانو په سوداګرۍ کې یې سترې ګټې کړې وې، پرتګالیان له سیرالیون څخه په شا وتمبول او په ساحلي سیمو لاسبري شول.

په ۱۷۸۷ ز کال کې برېټانوي فلیسوف مسټر ګرانوېل شارپ د لایبریا په شان په سیرالیون کې د خپلواکه شوو تورپوستو مرییانو د ځای پر ځای کولو مفکوره وړاندې کړه. دا مفکوره برېټانوي سیاست پوهانو ومنله او ځینو شخصي شرکتونو ته یې د دغه کار د تر سره کولو اجازه ورکړه. په ۱۸۰۷ ز کال کې مریېتوب لغوه شو او برېټانویان له داسې ستونزې سره مخامخ شول چې ازاد شوي تورپوستي مرییان چېرته ځای پر ځای کړي. ګرانوېل شارپ د اتلس په سواحلو کې ۲۵۰ کیلومتره ځمکه واخیسته او هلته یې د یوې کرنیزې ټولنې د جوړېدو بند و بست وکړ چې د ولسواکۍ په اصولو به اداره کېږي.

د ۲۰ مې پېړۍ په لومړیو کې د سیرالیون د خلکو خپل منځنی پیوستون او د خپلواکۍ غوښتنې احساسات پیاوړي شول. په ۱۹۲۴ ز کال کې برېټانویانو د دغه هېواد د اداري لپاره اساسي قانون او د قانون جوړولو ټولنه منظوره کړه چې خلکو ونه منله. په ۱۹۴۳ ز کال کې د سیرالیون خلکو ته د هېواد په اجرایوي شورا کې د ګډون حق ورکړل شو. په ۱۹۵۱ ز کال کې برېټانوي چارواکو د دغه هېواد له خپلواکۍ سره هوکړه وکړه او نوی اساسي قانون یې ورته جوړ کړ. د ۱۹٦۱ ز کال د اپرېل په ۲۷مه سیرالیون خپلواک او د ملګرو ملتونو د ټولنې په غړیتوب ومنل شو. له ۱۹۹۹ ز کال څخه را په دېخوا په یاد هېواد کې دولتي ضد نوي وسله وال ځواکونه پیدا شول چې په یو نیم کال کې یې د هېواد ۵۰ سلنه خاوره ونیوه او مرکزي حکومت یې له ګواښونو سره مخ کړ. په دغو جګړو کې په زرګونو خلک ووژل شول او یوشمېر له خپلو سیمو څخه بېځایه شول. په ۲۰۰۲ ز کال کې د سیرالیون د دولت او مخالفینو ترمنځ د سولې هوکړه د نایجیریايي پوځونو په شتون کې لاسلیک شوه. دغه هېواد د سولې، امنیت او ډاډمن ژوند پر لور یون پیل کړ. که څه هم چې په سیرالیون کې د ملګرو ملتونو ملکي دفتر د سولې پراخ بنسټه حکومت د جوړولو لپاره کار کوي، خو لا تر اوسه هم ستونزې پوره له منځه نه دي تللې.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو په کتاب کې د سیرالیون نوم نشته، نو له همدې کبله دغه دواړه هېوادونه په خپلو کې هېڅ راز اړیکې نه لري.

له افغانستان څخه تر سیرالیون پورې د هوا له لارې فاصله ۸۵۲۵ کیلومترو ته رسېږي. دغه راز  د کابل او فري ټاون ښارونو ترمنځ د وخت توپیر هم څلورنیم  ساعته دی.

## همیانۍ

# بېنکاک او ستر سوداګریز مرکزونه يې

ژباړه: حمیدالله حمیدي

بېنکاک په نړۍ کې د سیلانیانو لپاره د چکر تر ټولو ښه ځای او د هالنډ پلازمېنه ده. د دغه ښار یوه ښه ځانګړنه دا ده چې د چکر لپاره د نورو هېوادونو او ښارونو په پرتله ډېر حیرانوونکي او په زړه پورې ځایونه لري. کېدای شي تاسو د بېنکاک د لوی سوداګریز مرکز نوم تر اوسه پورې نه وي اورېدلی، خو په دې لیکنه کې به په بېنکاک کې ۷ سوداګریز مرکزونه در وپېژنو. دا به د هغو کسانو لپاره ډېر په زړه پورې وي چې د نویو او انتیک شیانو د لیدو او اخیستو لپاره لېوال وي.

**۱- د سیام ډیسکوري سوداګریز مرکز**

د سیام ډیسکوري سوداګریز مرکز په لیدو سره حتماً حیرانېږئ. دغه مرکز په ۱۹۷۳ ز کال کې جوړ شوی چې له یو څه بیارغونې وروسته د ۲۰۱٦ ز کال د مې په ۲۸مه دویم ځلي پرانیستل شو. داسې هم ویل کېږي چې په دغه بازار کې پلورل کېدونکي شیان یوازې د هغو خلکو د ژوند له کچې سره برابر دي چې په تایلنډ کې ژوند کوي. هغه کسان چې دغه بازار یې له نږدې لیدلی وي، ښه قضاوت کولی شي. په دغه بازار کې د خوښې هر ډول توکي ان بې پیلوټه الوتکې هم رانیولی شئ. ایا تر اوسه مو اورېدلي وو چې بې پیلوټه الوتکې دې په یوه داسې بازار کې هم پیدا شي؟ په دغه سوداګریز مرکز کې د لوبغاړو او فلمي ستورو داسې مجسمې هم پلورل کېږي چې کټ مټ د هماغه کسانو په څېر وي.

**۲- د سیام پاراګون سوداګریز مرکز(Siam Paragon)**

کله چې د سیام پاراګون په سوداګریز مرکز کې ګرځئ او چکر پکې وهئ، داسې فکر به وکړئ چې کوم ځانګړی او مشهور کس یاست. له لومړۍ دروازې چې کله ننوځئ، له یوه شنه باغ سره مخ کېږئ چې ونې او ګلان یې په مصنوعي توګه جوړ شوي دي. د دغه سوداګریز مرکز په لیدو سره به ډېر قیمتي او لوکس شیان ووینئ. په دغه بازار کې هره اونۍ یو ننداړتون هم پرانیستل کېږي. د بېلګې په توګه، یوه اونۍ د ساعتونو، بله اونۍ د کامرو او همدا راز د سینګارتوکو او نورو شیانو.

**۳- د سیام سنټر سوداګریز مرکز(Siam Center)**

سیام سنټر سوداګریز مرکز بیا د موډ او فېشن د مینانو لپاره ځانګړی ځای دی. په دغه بازار کې د بوټونو دومره مغازې دي چې هېڅ نه پوهېږئ له کوم ځای څخه یې پیل کړئ. تر ټولو په زړه پورې خو یې لا دا ده چې د بوټونو په دغه ستر سوداګریز مرکز کې ځینې انتیک رسټورانټونه هم شته، که په ګرځېدو را ګرځېدو وږي او تږي شئ، نو دلته یو څه انرژي اخیستی شئ او دمه کولی شئ.

**۴- کېنګ پاور سوداګریز مرکز (King Power Complex)**

د هوایي قطارونو (BTS) یا د بریا د یادابښت له تم ځای څخه تر پنځه دقیقې پلې مزل وروسته مو پر کېنګ پاور سوداګریز مرکز سترګې لګېږي. همدا په ورتلو سره به مو د دغه سوداګریز مرکز سپینه فضا خوشاله کړي او خوښ به مو شي. د دغه سوداګریز مرکز ښکلا هغه لېفټ لا څو برابره کړې ده چې ښیښیي پوښ لري او د سوداګریز مرکز په همدې منځ کې نورو پوړونو ته پورته شوی دی. په دغه سوداګریز مرکز کې د پېرلو لپاره لومړی د ځان لپاره ځانګړی کارډ (shopping registration card) جوړکړئ؛ ځکه په هېڅ ډول پکې فزیکي پیسې ښکته او پورته نه کېږي. تاسو باید په لومړي سر کې د هغه څه په اړه مشوره کړې وي چې غواړئ وایې خلی. د توکو د بیو په اندازه یا لږ څه زیاتې پیسې باید په ځانګړي ځای کې تحویل کړئ، څو تاسو ته shopping registration) card) کارډ درکړل شي. له دې وروسته کولی شئ په دغه سوداګریز مرکز کې د خپلې خوښې وړ توکي واخلئ.

**۵- سنچري مال سوداګریز مرکز(Century Mall)**

له کېنګ پاور څخه له یو څه پلي تګ وروسته سنچري مال ته رسېږئ. سنچري مال د MBK چې په بېنکاک کې بل لوی سوداګریز مرکز دی، کوچنۍ کاپي ده، خو یوه ځانګړنه لري؛ هغه دا چې دغه سوداګریز مرکز بیا په دننه کې یو سینمایي سالون هم لري. B پوړ یې یوازې خوراکونو او څښو ته ځانګړی شوی دی چې کولی شئ د خپلې خوښې خواړه، شیریني او کېک پکې نوش جان کړئ. په دغه سوداګریز مرکز کې د خپلې خوښې وړ هر ډول توکي پیدا کولی شئ.

## ولسي جرګه: پاکستان هڅه کوي چې د سولې په پروسه کې افغانستان او امریکا تېر باسي

د ولسي جرګې د نړیوالو اړیکو کمېسیون وايي، پاکستان د تل په څېر بیا هم په دې هڅه کې دی چې د افغان سولې په پروسه کې په خپلو دروغجنو ژمنو سره افغانستان او امریکا تېر باسي.

د دغه کمېسیون مرستیال داود کلکاني د یکشنبې په ورځ ازادي راډیو ته وویل چې پاکستاني چارواکي د امریکا له خوا پر هغه هېواد د فشارونو د کمولو لپاره هڅه کوي چې وښیي د افغانستان د سولې په برخه کې یې همکاري رښتینې ده.

نوموړي وویل: « قریشي ښايي د دې لپاره چې پر خپل هېواد د امریکا فشارونه یوه اندازه کم کړي او وتوانېږي چې یو ځل بیا افغانستان او امریکا په خپل چل کې راګیر کړي، کوښښ کوي چې د افغانستان د سولې په بهیر کې د خپل هېواد همکاري رښتینې وښیي او ووايي چې موږ ستاسو غوښتنه پر ځای کوو».

نوموړی وايي، افغان چارواکي باید په څرګند ډول له پاکستانه وغواړي چې د طالبانو له ملاتړ او د افغانستان په کورنیو چارو کې له مداخلو لاس واخلي.



دا په داسې حال کې ده چې یوشمېر پاکستاني رسنیو ویلي، ټاکل شوې چې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړیکو د ښه کولو په موخه راتلونکې اونۍ کابل ته سفر وکړي.

دغو رسنیو ویلي، قریشي د افغان سولې په برخه کې د امریکا له خوا د پاکستان د همکاریو د جلبولو په لړ کې کابل ته سفر کوي. دا څرګندونې په داسې حال کې دي چې د تېرې چهارشنبې په ورځ د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په اسلام اباد کې د پاکستان له لومړي وزیر عمران خان سره ولیدل، خو ویل شوي چې په دغه لیدنه کې د افغانستان د سولې په برخه کې کومه نوې ژمنه ونشوه.

خو د پاکستان د لومړي وزیر دفتر ویلي چې د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي خلیلزاد ته ډاډ ورکړی چې اسلام اباد به د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې په برخه کې همکاري وکړي.

له دې وړاندې د امریکا ولسمشر د پاکستان صدراعظم ته د لیک په لېږلو سره له دغه هېواده غوښتي وو چې د افغان سولې په پروسه کې همکاري وکړي.

امریکایي چارواکي له اوږدې مودې راهیسې پر پاکستان فشارونه راوړي چې په خپله خاوره کې مېشت طالب مشران له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته کېنوي، خو له دې ټولو سره سره د نړیوالو اړیکو کارپوه انتظار خادم وايي چې د افغان سولې بهیر په دې وروستیو کې اجباري جنبې خپلې کړې او پاکستان په دې هڅه کې دی چې په دې برخه کې د چمتووالي په ښودلو سره امتیازات واخلي.

خادم وايي: «پاکستانیان په دې پوهېږي چې که په افغانستان کې سوله راځي، نو د دوی امتیازات باید خوندي وي. کله چې شاه محمود قریشي افغانستان ته راځي، نو غواړي چې نړۍ ته داسې وښیي چې دوی د افغانستان د سولې په پروسه کې جدي دي، نو ویلای شو چې د افغانستان سوله اجباري ده او ټولې خواوې چمتووالی نیسي، خو غواړي امتیاز د دوی په لاس کې وي.»

## مشرانو جرګه: د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون حق نه لري چې د یوې ټاکنیزې حوزې ټولې رایې باطلې کړي

د مشرانو جرګې رییس د کابل د رایو لغوه کېدو ته په اشارې وايي، د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون حق نه لري چې د یوې ټاکنیزې حوزې ټولې رایې باطلې اعلان کړي.

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د تېرې پنجشنبې په ورځ په کابل کې د ولسي جرګې ټاکنې له درغلیو او سرغړونو ډکې وبللې او اعلان یې وکړ چې د ټاکنو د قانون او د کمزوري مدیریت له امله د یادې ټاکنیزې حوزې ټولې رایې باطلې دي.

خو له دې ټاکنیزې ستونزې د خلاصون لپاره ورمه ورځ د ولسمشر د دویم مرستیال سرور دانش تر مشرۍ لاندې د دواړو کمېسیونونو د رییسانو، د سترې محکمې د رییس، لوی څارنوال، د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون د رییس، د سیمه ییزو ارګانونو د رییس او د احصایې او معلوماتو د ملي ادارې د رییس په ګډون ناسته وشوه.

په دې ناسته کې پرېکړه وشوه چې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون دې پر خپلې پرېکړې بیا غور وکړي او د کابل د ټاکنیزې حوزې د رایو د باطلېدو په تړاو دې د لېندۍ ماشتې د ۱۴مې پرېکړه و ځنډوي.



د مشرانو جرګې په پرونۍ ناسته کې د کابل د ټاکنیزې حوزې د رایو د لغوه کېدو په تړاو بحث وشو.

په دې جرګه کې د کندوز د خلکو استازي عبدالله قرلق د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون پرېکړې ته په اشارې وویل: «په ټاکنیزو کمېسیونونو کې اختلاف هېواد د بحران لوري ته بیایي. د خلکو پر رایو او برخلیک باید لوبې ونه شي، که حالت دا ډول وي خدای پوهېږي چې دغه کمېسیونونه به ولسمشریزې ټاکنې څه ډول مدیریت کړي.»

په مشرانو جرګه کې د کابل د خلکو استازي فرهاد د ټاکنیزو شکایتونو له کمېسیونه وغوښتل چې له قانون سره سم پاکې رایې له ناپاکو رایو جلا کړي او له درغلي کوونکو سره دې قانوني چلند وشي.

په جرګه کې د کاپیسا د خلکو استازي مولوي محی الدین منصف وویل: «د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون داسې کار کوي چې د ټاکنیزو کمېسیونونو او حکومت حیثیت تر پوښتنې لاندې راولي، که شواهد لري، نو له پرېکړې یې باید تېر نه شي، خو که پوره شواهد نه لري، باید د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون تر تعقیب لاندې ونیول شي. ځکه له قانون سره یې لوبې کړې او د دوی دغه کار قانوني بنه پیدا کړې ده.»

د دې جرګې رییس فضل هادي مسلمیار وویل، د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون پرېکړه قانوني بڼه نه لري.

نوموړي زیاته کړه، د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د قانون له مخې یوازې کولای شي د شکایت پر اساس د رایې ورکونې د یوه مرکز او یا یوه ځانګړي نوماند رایې باطلې کړي او یا یې له سره وشمېري.

هغه وویل، د قانون له مخې دغه کمېسیون د یوې ټاکنیزې حوزې د ټولو رایو د باطلېدو صلاحیت نه لري.

د نوموړي په خبره، د قانون له مخې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون باید دا پرېکړه د ټاکنو د لومړنیو پایلو تر اعلان وروسته رسنیزه کړې وای.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۸۵ |
| € | ۸٦,۱۰ |
| Rp. | ۵۴۲ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹٦,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسير ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی، جاوید کوتوال او شفیق همدرد

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین، حشمت نوري، جواد تیموري او امان الله حنیفي

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily








دوشنبه د ۱۳۹۷ د لیندۍ ۱۹مه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر لسمه | دویم کال | ۲۹۷یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۹ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۲ | ۱۵ |
| -٤ | ۱ | ۱ | ۳ | ٥ |

شرعي وختونه: سهار ۰٥:۲۹ | لمر ختل ۰٦:٤٧ | ماسپښین ۱۲:۱٤ | مازیگر ۰۳:۱۹ | ماښام ۰٥:٤۰ | ماخوستن ۰٦:٥٤

## رئیس‌جمهور غنی: فساد عامل بزرگ فقر و ناامنی در کشور است



محمد اشرف غنی، رئیس‌جمهور کشور در مراسم گرامی‌داشت از روز بین‌المللی مبارزه با فساد اداری، فساد را عامل بزرگ فقر و ناامنی در کشور دانست.

آقای غنی در این باره گفت: «فساد و بی عدالتی مانع تطبیق قانون اساسی می شود و بالاخره فساد عامل بزرگ فقر و ناامنی است».

مراسم گرامی‌داشت از روز بین‌المللی مبارزه با فساد، دیروز پیش از چاشت در ارگ ریاست‌جمهوری برگزار شد. در این مراسم، شماری از دیپلومات‌های خارجی، نمایندهٔ ویژهٔ سازمان ملل در افغانستان، سفیر امریکا در افغانستان، سفیر بریتانیا در افغانستان و نیز مقام‌های ارشد حکومت افغانستان شرکت کرده بودند.

رئیس‌جمهور غنی در سخنرانی‌اش در این مراسم افزود: «زمانی که در مورد اصلاحات صحبت و بحث می‌کنیم، شماری از افراد فکر می‌کنند که پیش‌آهنگان اصلاحات می‌خواهند به دیگران گودال حفر کنند و آنان از اصلاحات برداشت منفی دارند».

آقای غنی تأکید کرد که باید برای مبارزه با فساد اداری، تغییر نسلی به‌وجود آید، تغییری که به باور او به اندازه‌یی مهم و ضروری است که در غیر آن افغانستان دوباره به عقب برخواهد گشت.

او از رسانه‌ها، مردم و جامعهٔ مدنی خواست که در مبارزه با فساد حکومت را کمک کنند. در همین حال، سرور دانش، معاون دوم رئیس‌جمهور نیز در این نشست از آن‌چه که او دست‌آوردهای حکومت در بارهٔ قانون‌گذاری و مبارزه با فساد می‌داند، یاد کرد. آقای دانش، از قانون‌های حق دسترسی به اطلاعات و معادن به عنوان دست آوردهای حکومت یاد کرد. حکومت در حالی از تصویب این قانون‌ها به عنوان دست‌آورد یاد می‌کند که نهادهای مبارزه با فساد در کشور، می‌گویند که در این قوانین دست‌بردهایی از سوی حکومت زده شده است.

## نړۍ





